**ملاریا:** یوه ناروغي ده چې انسان ته د میاشو د چیچلو په واسطه پرازیتونه د لیږدولو له وجې را منځ ته کیږي، که پـه وخت یې درملنه ونه شي د تبې، ټوخی او ورسته وژونکي کیدی شي.

## څنګه رامنځ ته کیږي؟

ملاریا اکثرا د پرازیتی میاشو د چیچلو په واسطه انسانانو ته لیږدول کیږي. نادرا؛ ماشوم ته د هغه وینې په ورکولو چې د ملاریا پرازیت سره ککړه وي سالم شخص ته لیږدول کیدی شي، په ملاریا ککړې ستنې او په امیندواره میرمنو کې د پلاسنټا عضوې له لارې ماشوم ته لیږدول کیدی شي.



## د ناروغۍ نښې نښانې څه دي؟

د ملاریا نښې نښانې؛ له تبې سره پیل او، یخنۍ، لړزه، سر درد، قبضیت، د عضلاتو درد او ستړیا دي. د زړه بدوالی، کانګې او اسهال هم کیدای شي واقع شي. د پرازیت له ډول سره سم دا نښې نښانې توپیر لرلاي شي خو په عامه توګه د ملاریا حملې په وړو وقفو کې له تبې سره پیل کیږي، ورسته سخت یخنۍ او د خولې سره پای ته رسیږي.

انیمیا او یرقان ممکن په هغه حالتونو کې رامینځته شي چې تشخیص او درملنه یې وځنډول شي. د پرازیتونو په ځینو ډولونو کې چې د ملاریا لامل کیږي، که چیرې په 24 ساعتونو کې درملنه پیل نشي، د ودي ورسته د مړینې لامل کیږي.



## ایا د ملاریا درملنه شته؟

ملاریا یوه داسې ناروغي ده چې د درملو په مرسته یې درملنه کېدای شي. که چیرې ناروغي ژر تشخیص شي او مناسبه درملنه وشي نو، ناروغان په بشپړ ډول روغ کیدی شي.

د درملنې بشپړول خورا اړین دي حتی که شکایتونه له مینځه هم ولاړ شي، ځکه چې د درملو په سم دوز او وړاندیز شوي وخت کې کارول به د ناروغۍ د بیا تکرار مخه ونیسي.

د ملاریا درمل د عامې روغتیا عمومي ریاست لخوا چمتو شوي او ناروغانو ته په وړیا توګه ورکول کیږي.

## ایا د ناروغۍ لپاره واکسین شته؟

اوس مهال د ملاریا په وړاندې کوم تایید شوی واکسین شتون نلري.

## د ناروغی د مخنیوي لپاره باید څه وشي؟

د میاشو د چیچلو په وړاندې د خپل ځان ساتنه د ملاریا په مخنیوي کې د دفاع لومړی کرښه ده.

د شخصي محافظت تدابیر لکه د میاشو مخنیوي لوشنونو او مچری کارول ، د لمر له لوېدو وروسته پتلون او اوږده ږستوني لرونکي جامی اغوستل ، په خونو کې د هوا تازه کوونکو وسیلو لکه ایر کنډیشنر او پکي سره خوب کول او د ملاریا سیمو ته د تګ پرمهال باید په پاملرنه دوه برابره زیاته شي.

د ملاریا د مخنیوي بله طریقه د مخنیوي درملو کارول دي. هغه کسان چې هغه هیوادونو ته سفر کوي چیرې چې ملاریا عامه ده کولی شي د درملو په کارولو سره ځان خوندي کړي.



**که تاسو په ملاریا اخته هیواد څخه لیدنه کړې وي او که تاسو تبه لرئ، ژر تر ژره روغتیایی اداري ته مراجعه وکړئ، حتی که تاسو د مخنیوي درمل کارولی وي!**

زموږ په هیواد کې، د ملاریا مخنیوي درمل د ترکیې د سرحدونو او ساحلونو لپاره د روغتیا عمومي ریاست پورې اړوند د سفر روغتیایي مرکزونو څخه وړیا ترلاسه کیدی شي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره؛

**د سفر روغتیا مشورتي کرښې**

**444 77 34**

**سره په اړیکه کې شئ**

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتویات یوازې او یوازې د ترکیې د جمهوریت د روغتیا وزارت مسؤلیت دی او د اروپایي اتحادیې نظرونه نه منعکس کوي.

**مناسب ځای، ښه خدمت**

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتیایی مرکز ته ورشئ.

sihhatproject www.sihhatproject.org sıhhat

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# ملاریا د درملنې وړ یوه ناروغي ده

sıhhat



